شمالي وزیرستان: د ډزو په تبادله کې دوه ترهګر وژل شوي، یو سخت ټپي دی

شمالي وزیرستان؛ د ګړیوم په سیمه کاکا خیل کښې د ترهګرو او سکیورټي فورسز ترمینځه د ډزو په تبادله کښې دوه ترهګر وژل شوي او یو تن سخت ژوبل شوي دي ولې تې پې په خپل دروغو بیان کښې سکیورټي فورسز ته نقصاناتو اړولو حوالي سر دروغ وایلو ته مجبوره شوې دې۔ په برید کې یوازې یو امنیتي سرتېری ټپي شوی دی۔

ترهګرو د ګزمې پر مهال پر امنیتي ځواکونو برید وکړ، چې په ځوابي ډزو کې د افغان ترهګرو په ګډون د تې تې پې ګوهر ډلې دوه ترهګر وژل شوي او یو تن سخت ټپي شوی دی۔ د ځایي سرچینو له مخې، ځایي خلکو د موټرسایکل غوښتنه رد کړه چې د ترهګرو ټپي ملګري خوندي ځای ته ورسوي۔

تې تې پې افغان ترهګر پاکستان ته استوي او د امنیتي ادارو په لاس یې وژني۔ د دغو افغان ترهګرو حالت له سپیو هم بدتر دی، چې د جګړې لیوالتیا نه لري او ډېری یې بېرته خپل وطن ته ستنېږي۔